AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

٢٠٢۶/٠۵/٠٨

# هستی پر لمن تندر

د هستـۍ پر لـمن تـنـدر لګـيـدلـی
د خرد ارزښت لوګو کې تاويدلـی

د سهار ښاپيرۍ سپين مخ رانغاړلی
په تياره لار انسان کوړ او پرځيدلی

پـسرلي کې پر ګلـزار ګلـونه رژي
د بـلبـل ځالي تـه اور دی رسيـدلی

سپوږمۍ ځني طلايي را ټولي کړي
لمر کاواک شو له مداره غورځيدلی

پر نړۍ د وحشتونو غوغا جوړه
په هوا کې هر مارغه هم سوځيدلی

انساني فکر تر دومره را ټيټ شوی
د ژوند نبض ته بي تيلی دی لګيدلی

نـاتـارونـو نـړولـو پـه سيـالـۍ کـې
له هتلر چنګيزه لا دی پر مخ تللی

سمندر کې له دې ويرې نهنګان مري
زورواکـۍ هـوس کې ذهـن پرځـيدلی

پر هر لوري له همدوې ويره خپره ده
بـربـريـت د انـســان فـکـر اړولــی

د دانش ژبه ګونګۍ شوه ساه يې سوځي
خو عالم بيا کايـئنات را لـړزولـی

په چوپتيا کې انګازې د نوي يون کړي
بـيـداری تـه يـې اړين پـيـغام لـيـږلــی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ